برګودر

د ننګرهار د ولسي شاعر توکل د شعرونو
لومړۍ ټولګه

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

راټولونه او سریزه
د
لال پاچا آزمون ،،

The Eastern Peshtoon Areas of Afghanistan

(1880-1980)

By

Dr. Waris Mohammad Wazir

1998

برګودر

د ننګرهار دولسي شاعر توکل بابا

شعري ټولګه

PROPERTY OF ACKU 747
PROPERTY OF ACKU 7747

راټولونه او سریزه

د

لال پاچا ازمون

۱۳۷۷ل.

PROPERTY OF ARIC Established 1989

بسم الله الرحمن الرحيم

کتاب پېژندنه:

نوم : بر ګودر

وېناوال : توکل

خپرندوی : دانش کتابپلورنځی، ډکي نعلبندي، قصه خواني، پېښور.

د چاپ کال : ۱۳۷۷ل / ۱۹۹۸

چاپ شمېر : ۵۰۰ ټوکه.

لیکګر : صدیق الله بدر.

ډالۍ

درانه استاد محمد آصف صمیم ته چې د خپل لـوَر تر سوري لاندې يې زما د تحصيلي زدکړو په تر سره کولو او د ادب ډګر ته په هڅونه کې پوره زيار ګاللی.
په ډېر ادب

ازمون

له درانه فرهنګپال ورور اسد الله ساپي څخه بيا هم مننه چې د دې ټولګې خپرولو کې يې د زهرو ګوت په څېر تېر کړ.

ازمون.

توکل او د هغه شاعرانه پاچايي

ډېره بې غوري شوه په ښېوه کې ګوزران نه شي نور
نـن دی کـه سـبا دی تـوکـل لـه ښـېوې تللی دی.

سریزه:

د پښتو د اولسي شعر ډېرې غورې بیلګې د موسیقۍ په پردو کې خوله په خوله تر دې دمه رارسېدلې دي. د دغو بیلګو د جوړښت تر څنګه په خپله موسیقۍ هم یو بېله لاره خپله کړې ده، چې دا ټولې نوې خبرې په اولسي شعر او شاعر پورې اړوند دي. که زموږ اولسي شاعر له زده کړې څخه بې برخې پاتې شوی خو بیا یې هم د خپل فکر ډیوه د موسیقۍ په پردو کې ژوندۍ ساتلې ده. د پښتو په اولسي شعر کې شاعر د خپل چاپېرچل اړوند څېزونه او دودونه انځور کړي دي. د ده د شعر انګازې په اولس کې خپرېدل یو هم دا دی چې دی د اولس په ژبه له اولس سره غږېدلی، د شعر تـوکـي او خبرې یې د اولس په ژوند پورې اړوند دي. نو اولسي شعر زموږ

د فکلور غور بیلګه ده په دغه شعر کې له نورو خبرو سره سره یو شمیر ډیر مسایل، ویېونه، اصطلاوې، دودونه او... ژوندي ساتل شوي دي. اولسي شعر زموږ د نوي شعر پیلامه ده. دغه شعر موږ ته د ځراغ هغه رڼا رایادوي چې نن د هغې رڼا تر پلوشو لاندي بريښنا ته ناست يو. نو د اروانباد الفت خبره "د بريښنا رڼا ته د ځراغ د رڼا شاليد هم بايد هېر نه شي" زموږ په اولسي شعر طبيعي شعر دی، هیڅ ډول تکي او تکلف په کې نه شته، ژبه يې روانه او له يو ډول موسيقيت څخه ډکه ده، همدا خبره ده چې نن زموږ اولسي شعر د خپل موسيقيت او روانی په زور زړونو ته لاره باسي، په زړونو کې ځای نيسي او کلونه کلونه په زړونو او حافظو کې ژوندی پاتې کېږي. زموږ د اولسي شعر غېږه هماغه د اولس غېږه ده چې هم په کې زېږي او هم له ښايسته مزله وروسته د خلکو په حافظو او زړونو کې ښخ شي.

د دغه شعر يوه نيمه بيلګه د موسيقی په پردو کې سوونه کلونه ژوندی پاتې وه د سوونو کلونو کيسې او افسانې په کې نغښتې دي. په دغه شعر کې له عشقي، مذهبي اړخونو تر څنګه يو شمېر نورې فلکوريکې کيسی هم رانغښتل شوي دي. د دغو شعرونو شکل په خپله د دغه شاعر زېږنده ده، لکه څرنګه چې فکره ویېونه او... يې خپل دي همدا ډول شکلي جوړښت يې هم خپل دی، لکه در واخلې ببولاله بګټی، لوبه، بدله، چاربیته او... چې د دوی په ژبه شنه شوي دي او همدا ډول که يوه نيمه بيلګه يې د عروضي شاعری له تعريف سره برابره وي نو په هغه کې به هم دا ووينو چې وزن او موسيقيت به يې خپل وي. په اولسي شعر کې د عروضي شاعری په شان يو ډول وزن وينو، چې دا وزن د موسيقی په پردو کې زوکړی دی. کېدای شي چې ځينې داسې نمونې پکې ومومو چې هغه په ليک کې بې وزني پيدا کړي.

ولې څرنګه چې اولسي شعر په موسیقۍ کې زوکړی دی، نو همدا موسیقي ورته یو ډول موسیقیت ورکوي او هغه نیمګړتیا له منځه وړي، بله خبره دا ده چې د دغه شعر د وینا ژبه د اولس "محاورې" ژبه ده، نو د ځینو کلمو شکل پکې بدلون مومي. خو بیا هم د دغو خبرو سره سره د اولسي شعر وزن او آهنګ ډېر روان او حتی په ځینو ځایونو کې د عروضي وزن او آهنګ په شان غځېږي. وېبونه په یو ډول ځنځیر کې پېیي او هر ویی (لغت) ته په ښکلې بڼه ځانګړی ځای ورکوي.

پېزوان دې اوېزان په لړزان کې زلزله ده
د پانې په شان رېږدي د خزان پرې غلبله ده.

تر پایه
اولسي سندرې، لومړی ټوک، ۹۵

یا سپین رخسار د یار دي یا له مل د نسترم وي
یا ستوری د سهار دی یا شهزاده صنم دی

تر پایه
هماغه اثر، ۱۱۷

یا د حنان د شعر دغه وزن ته پام وکړئ چې څومره خوږولني پکې نغښتې.

زما یار ګل نګار پریوار وار دی
سپین رخسار دل زار زار دی

دریم

یا

شوي بلبل د سردرو په هر ګلشن لاړې
ښه په ښښن لاړې
الله دې مل شه
سید کمال، ناچاپ

په دې ډول په ولسي شاعرۍ کې نورې ډېرې بېلګې هم لرو. که د دغو بېلګو له پولې راواوړو، نو یو بله خبره به مو هم د دغه شعر په باب په زړه کې راوګرځي هغه دا چې په دغو شعرونو کې لنډۍ او سروکي هم ګډ شوي دي اوس د دې پته نه لګي چې ایا سروکي به د دوی له غېږې بېل شوي وي او که دوی به سروکي په خپلې غېږ کې ځای کړي وي؟ خو څرنګه چې دواړه په اولس کې زوکړي دي. نو نه شو کولای چې دا ووایو سروکي مخکې پیدا دي او دا شعرونه وروسته. همدارنګه دغه شعرونه د روانی له مخې اوس د متل په توګه کارول کېږي او یا ځینې مینه وال په اولس کې یو نیم بیت جوړ کړي او هغه بیا دیواني شاعرانه ته منسوبوي او یا د هغوی ځینې بیتونه داسې سره ګډوډ کړي چې د خپلې خولې خبره یې ګڼي. نو کېدای شي چې ځینې لنډۍ له همدغو اولسي شعرونو څخه الوتې وي او یا ځینې لنډۍ پکې ځای شوي وي خو دغه خبره چې لنډۍ د دوی له شعرونو پیدا شوي دي او بیا د خلکو په خوله کې مېښت شوي دي. نو د دې خبرې سنګر را ته پوخ ښکاري.

د سروکو بېلګې:

خلک په تیکو باندې ولې سارانی دی
راشه ماما زوی دې لېونی دی

په دغه سروکي کې يو اولسي شاعر "شيفته مل" نور بيتونه کښلي.
يا د "محمد" نومي کښنه:

ماښام دی مه راځه جانانه
موزيګی به چېرته وينه

يا دا سروکی چې شمس علي نومي اولسي شاعر په کې بيتونه جوړ کړي دي:

چرګ بانګ دی پاڅېږه لاليه خوب به بيا وکې مينه

اولسي سندرې، لومړی ټوک، ۱۲۱

د لنډويو بېلګې:

د لغمان د اولسي شاعر محمد نور د يو شعر پېل داسې شوی:

په څو ځلې مې درته ويلي - چې د ديدن په ځای کې رو ږده قدمونه
با
په يارانه کې داسې کېږي
په کې پيښېږي د پلکونو ګوزارونه

او داسې نورې ډېرې بېلګې هم پيدا کولای شو چې که کټ مټ د لنډۍ وزن په کې نه وي کښل شوی ولې د لنډيو مفهوم پکې کټ مټ د بيتونو په بڼه کې انځور شوی دی.

همدارنګه د ځينو شعرونو وزن هم لنډۍ ته ورته دي. نو د دغو ټولو خبرو په رڼا کې غواړو چې خپلې خبرې ته راوګرځو او د دې ټولګي د اولسي شاعر توکل پر ژوند او فن وغږېږو.

ژوند لیك:

ننګرهار د خپل فرهنګي تاریخ په ډګر کې تر دې دمه ډېر شاعران د افغاني ادب ډګر ته وړاندې کړې دي. په ننګرهار کې بیا ښېوه هغه شاعرانه سیمه ده چې د توکل بابا په کې خاپوړې کړې دي.

د دغه شاعر د زوکړې نېټه سهي نه ده څرګنده، خو د ځینو تذکرو او عوامو له خولې د ده د زوکړې په باب ډېر څه نه دي کښل شوي.

د پښتانه شعراء په دویم ټوک کې توکل ځانته د ښېوې د سیمې ښودل شوی او د میرا هم مهالي. د اولسي سندرو په لومړي ټوک (۱) کې مولف د توکل بابا د ژوند زمانه ۱۲۵ هـ. ق ښوولې ده، د ده د ځای د اوسېدونو له خولې. توکل د ننګرهار د ښېوې اروند د ملك سیدال د کلي اوسېدونکی دی، د مرګ نېټه یې د سلو کلو په شاوخوا کې اټکل شوې. د ده د شاعرۍ ځینې بېلګې د جیمز ډارمستټر د پښتو د اولسي ادب د پښتونخوا د هار د بهار نومې غور چاڼ کې چاپ شوې دي او همدارنګه یې د شاعرۍ ځینې بېلګې بهار ګلشن، جشن نوروزي او ګلزار محبوبا کې هم خوندي دي. له دې سره سره د ده د شاعرۍ ډېرې بېلګې د پښتني سندرو په دویم ټوک کې هم خوندي دي.

د توکل شاعري:

توکل د ځینو په قول ښایسته ډېره شاعري کړې، خو څرنګه چې دی نالوستی و، لیك یې نه و زده، نو شعرونه به یې هم له څو ورځو وروسته پوپنا کېدل، کېدای شي د ده د ژوند په زمانه کې هم ډېر شعرونه خاورې شوي وي خو کله چې دی ومړ نو بیا د موسیقۍ د پردو په زور د ده د

شاعرۍ ځینې بېلګې یو څه ژوندۍ پاتې شوې، او همداسې خوله په خوله تر دې دمه ایله یو څه راورسېدلې. دا چې په آرې "اصلي" بڼې او د لاسته راغلو شعرونو تر منځ توپیر څومره دی؟ دا څوک نه شي ویلای، خو همدا اوس د ده شعرونه په ځینو چاپي ټولګو کې په یو ډول او د خلکو په خولو کې په بل ډول ګرځي نو دا جوتېږي چې د ده آره بڼه به حتمي بدله شوې وي.

د توکل د فن ځینې بېلګې لا اوس د متل په ډول هم استعمالېږي نو ځرنګه چې د اولسي شعر او متل محکه یوه وه نو اوس دا خبره څوک نه شي کولای چې کوم یو مخکې زوکړی دی. په دې باب مو په پیلامه کې څو کرښې ولیکلې.

توکل ته خپلو هم مهالو شاعرانو د باچا لقب ورکړی. د ده د شاعرۍ د جاري کېدو په باب په اولس کې دا خبرې خورې دي.

وایي توکل پالېز ایښی و. د پالېز ساتنه یې په یوه کوډله کې کوله. یو ورځ سهار مهال د سبا ناري په خوراک او څښاک لګیا و. په دې وخت کې، څلور تنه فقیران تېرېدل، توکل بابا ورمنډه کړه هغوی یې راوستل چې سبا ناری یو ځای وخوري. د ډوډۍ تر خوړلو وروسته یې هندوانې ورته ماتې کړې، فقیرانو په ډېره مینه له ده سره هنداونې وخوړې، بیا یې توکل ته مخ وروګرځاوه وې ویل! ښه نو ته اوس ووایه څه غواړې؟ توکل په عاجزۍ ورته ویل زه نور هېڅ نه غواړم، دومره په زړه کې ارمان لرم، چې د دعا په لپه کې ما ته د شاعرۍ د جاري کېدو غوښتنه وکړئ. فقیرانو دعا وکړه. توکل له خانه سره موسکې شو وې ویل! څه توکله شعر دې جاري شو. نو په همدې باب یې وویل:

توکله ته دي وکړئ فقیرانو
غر يې تللی تر کشمیر او کندهار دی
د توکل شعر چې جاري شو په دعا د فقیرانو
نو هغو يوړله برخه چا چې دا مقصد لاره

د توکل بابا ځينې شعرونه اوس يېخي متل شوي دي لکه درواخلئ دا نیم بیتی يې.

نن د ی‌که سبا دی توکل له ښبوې تللی دی

د توکل په شاعرۍ کې یو عشق یوه هیله نغښتې ده، په جادويي الفاظو کې ښکلا انځور ده. استاد قيام الدين خادم دده دشاعرۍ‌په باب کښي.

۱- توکل بابا د یو مخصوص سر او اهنګ مخترع دی.

۲- د مجازي محبت د نرۍ پردې لاندې یو بله دنیا ادبي زواله محبت ښيي.

۳- د ژبې استعمال په داسې طور سره کوي چې هیڅ رقم تکلیف په کې نه وي ...(۱).

د توکل د شاعرۍ نژدې هممهالي د تيرا ميرا د شکې سيد کمال دي. دوی یو له بل سره کتلي يو بل ته يې شعرونه هم ويلي. چې له هغو شعرونو څخه اوس يوازې له ميرا سره د ده د مخامخېدو يو څو بيته پاتې دي. ميرا وايي:

توکل پاچا ميرا وزير د ده دی
ميرا صفت د خپل پاچا به کوي

اتم

۱۶۱

۱- کابل مجله ۱۱۷ ګنه، د خادم لیکنه.

همدازنګه شعر يې په دې ټولګه کې په بشپړه توګه خوندي دی.

همدا ډول توکل تر دې اخوا يو شمېر فی البديهه بلګې هم لري. وايي چې يو څو تنه شاعران په ده ورپېښ شول سم له واره يې ورته وويل:

پاس اسمان دی لاندې مځکه
توکل غريب به څه کا

نو توکل پرته له کوم ځنډ وربانديې خوله راپرانيستله وې ويل:

پاس اسمان دی لاندې مځکه
توکل د سهار شی دی يو طرف به مخه وکا

د منځپانګه (محتوا) له مخې:

د منځپانګې له مخې د توکل شعرونه زياتره عشقي بڼه لري دی. دی د يو ځانګړي سبک خاوند دی د شعر ژبه يې روانه او له خوږنده ډکه ده، لکه مخکې مو چې نغوته وکړه د ده ځينې شعرونه لا په اولس کې متل شوي هم دي. نن دی که سبا دی توک له بڼبوی تلی دی.

د ده شاعري روانه، فصيحه او يو ډول ځانګړې موسيقيت لري. د ځينو شعرونو ورېمې يې په ډېرو ځايونو کې خورې شوي دي او همدارنګه له هنري ارزښتونو څخه ډکې دي.

وفادار زما ياره سر پورته کړه له خواب
سمندر په شانې پروت يم ستا په در سينه کباب

تر پايه

د دلبر په مخ مې زانګي تور زلفان ادم خواره
خدايه کور د هغه وران کړې چا چې دا تخم کاره

جوله:

د جولې له مخې د ده د شاعرۍ زياتره په ملي وزنونو (بدلې، لوبې چاربيتې، بګټۍ، مقامونه) کښل شوي دي، د غزلو رنګ او بڼه يې هم پښتني ده خو د شعرونو زياته برخه يې د غزل په فورم کې کښل شوې ده.

د ده شاعري هم د نورو اولسي شاعرانو په شان د موسيقۍ په پردو کې زوکړې ده او د همدې موسيقۍ په پردو کې تر ننه يې د ژوند سا ويستله، نو د خپل همدغه موسيقيت له امله دا دی خوله په خوله تر دې دمه يې ځان په نيم ژواندي ځان رارسولی دی.

دا ټولګه:

جوته خبره ده چې د ده د شاعرۍ ډېره برخه به خاورې شوې وي. ما د خپلو څو کلنو ادبي هلو ځلو په بهير کې دا هيله لرله چې د دغه وتلي شاعر ټولګه راټوله او خپره کړم.

له ۱۳۶۹ کال راهيسې مې د ده د شاعرۍ په راټولولو پيل کړی تر دې دمه مې د همدغو څو کلونو په بهير کې ځينې بېلګې اولسي سندرغاړو (منور، نواب، سيد عالم) له فيټو څخه کښلې بيا مې د ده د شاعرۍ د راټولو خبره د بوډيالۍ د اوسېدونکي خوان شاعر سيد الياس صداقت سره غوټه کړه. له هغه سره بوډيالۍ ته ولاړم هلته بې د ډګروال صابر او معلم اکبر په ملګرتيا د ده د شاعرۍ بېلګې لاس ته راوړې، ځينې بېلګې مې له پښتني سندرو د اولسي سندرو لومړي ټوک او د پښتونخوا د شعرهار بهار څخه وکښلې، همدارنګه ټولې (چاپ او ناچاپ) بېلګې مې سره پرتله کړې او په همدې شکل مې د هغه د شاعرۍ دا وړه ټولګه د چاپ جوګه کړه، دا منم

١٥

چې دا به نيمګړې وي. خو څرنګه چې د ده ژباړه شاعري خاورې شوې ده نو دا ويره راسره پيدا شوه چې کېداى شي د ده دا پاتې شاعري هم له منځه لاړه شي، دا مې وېښيله چې خپره يې کړم.

درنو فوکلور ټولوونکو ته د توکل بابا د هغو شعرونو چې په دې ټولګه کې نه دي خپاره شوي د راټولولو او خپرولو په هيله خپلو خبرو ته د پاى ټکى ږدم.

د اوس لپاره.

لعل پاچا ازمون

جلال کوټ

١٣٧٦هـ.ل

پیچ و تاب زلفې په مخ د جانان لګي
خوشبویې په هر لوري د جهان لګي

بلبلان چې تل چغیږي په ګلانو
عاقبت به دې ګلانو خزان لګي

تل رښتیا کړه دروغ مه وایه له سره
ستا درواغ لکه ږلۍ په ایمان لګي

د توکل د زړګي سر قلم شو
له فریاده یې ناري په اسمان لګي

په گلشن کې د بلبلو شور ما شور دی
غمازان چې غمازي کا مخ يې تور دی

د هغو چراغ بل نه شو تر سحاره
چا چې کړی په عاشقو ظلم و زور دی

ما به دم کړي د وصال په منترو نو
سور پېزوان دې منه داړ په شونډو سپور دی

د رسته شپه انوار وريږي تر سحاره
د سحار د وخت رحمت گوره لا نور دی

د دنيا له عيشه وتی سراسر دی
چې بل شوی د هغو د مينې اور دی

سر دې نه پورته کوې د غم له تاله
توکل نن دې څه کاڼي په کور دی

د دلبر په مخ مې زانګې تور زلفان ادم خواره
خدایه کور د هغه وران کړې چاچې دا تخم کاره،

زه تسلیم یم امان غواړم که هندو وم مسلمان شوم
نور مې مه وژنه نا ترسې ګېزو ورو ځو په لاړه[1]

د مرغه په ښیر بندې شوم ستا د زلفو په حلقو کې
نور مې مه راکاږه یاره په تا وده او په ساړه

د توکل شعر چې جاري شو په دعا د فقیرانو
نو هغو یو ړله برخه چاچې دا مقصد لاړه[2]

---

(۱) لاړه : لوړ ـ Lor
(۲) لاړه : لړل

تورې دې مه جوړوه زلفې په رخسار صنمه
زه دې ښکور کړم نه ویرېږې له ازار صنمه

یو دې مشین خال په تندي، زما دې زړه کړو بندي
یو دم راپرېږده چې ازاد شي ګلرخسار صنمه

سینه دې باغ د ګلو، په کې دې شور د بلبلو
رب دې خزان له باده وساته ګلزار صنمه

دلبره مخ دې ډیوه، لبان دې لعل د یمن
ژبه دې قند غاښونه دُر خوله شکربار صنمه

دور دې تیر شولو، فقیره توکله
ارمان به یوسې ګورستان له یو خروار صنمه

زه خوړلی یه زړه باندې ستا د زلفو منګر ویم
طبیبان خوشې خوارېږي کړي ساه مې خېژي په نار ویم

حلاتان راپسې ګرځي یه اوږو د سنبلکي تورې
وابه نه وړم ستا د لورې زه مین ستا په ابرو یم

لاس مې ونیسه په بندګۍ ای دلبره خدای لپاره
د مجنون په شان مې حال دی مدام پروت زه په خوار ویم

تش کالبوت په دنیا ګرځم ساه مې نشته په بدن کې
د بیلتون ظالم له لاسه حلال شوی په تبر ویم

زه توکل د غیرو خلکو کناره ناست یم ځان ژاړم
د ګناه پیټی مې دروند دی خپل مولاته په زار ویم

شاه لیلې په تور ویښتني گلونه
اوس روانه ده په سیل کوي سیلونه

بال و پر مې د هجران په لمبو وسو
چاته ووايم د سوي زړه حالونه

توکل دې تل صفت د خد و خال کا
سپین دندان دې مرواريد شونډې لالونه

په سینه وهي تالونه صنم زلفې دې منګورې

....

دا په باد د نسیم سروه ده کــــبزه شـوې
ای منمې که په خپل حـــــرم کې سـبــــورې

دې زما په فکر هــیڅ دیــې بې ګمـانه
د هوسه ستړګې دا ستا تر سترګـــو پورې

د محلس یاران دې لا رل اد یـــرو تــه
توکله تنها پاتې یــه دا کــــــووړې

پرېږده چې مې مړ کي[1] شاه لیلې په تیره توره
ستا ظلم و جفا ده یاره ماوته منظوره

نه که بېګناه د ستا له لاسه شهادت موم
ته که راته لاړې رب به راکي[2] جنت حوره

د یر دا ستا په شان زیر زمین شولو بیشانه
پرېږده کبر پرېږده لوړه مه ګرځه مغروره

راغي په توکل پسې چپاو د غمازانو
اوس به يې سر غوڅ کا په چاړه او یا په توره

---

(۱): کي - کړي.

(۲): راکي - راکړي.

مین په تا یمه د لبره زه بل یار څه کړم
بورا چې نه وي په کې ناست هغه ګلزار څه کړم

په کار مې نه دي نعمتونه د دنیا په مخ کې
ما ته شیرین یې ترهر چا سیب وانار څه کړم

په کار به نه شي په قیامت کې مورو پلار د هیچا
غم خور مې ته یې پاک الله زه بل ریبار څه کړم

زه توکل یم ګناه کار د ناچارۍ له لاسه
په ګور کې نه لرم چارګ د بل خروار څه کړم

زه به کله شم له تا نه لاســـ وړ دار
که مې سر له تننې غوڅ شي په سل وار

چې شیریني شونډې بېرته په خنداکړې
په نړکه ژبه شیرین کوي گـفتار

په کتو مې شول کانږه د ستر گو تور
گل اندامه به راځې په د عنه لار

ستم مه کړه په عاشقو ستمگره
تل به نه وي د فاني دنیا روزگار

توکل نه دعا وړکړه فقیرانو
غزني تللی ترکشمیر او کندهار

دلبره مړم درپسې د رب د پـــــاره
یو ځل راشه زمـا گـل نـــــگاره

ته ښاپیرۀ یې د حـــرم مـــنځې
تل ستا په یاد کې یـم نا قـراره
قد او قامت د گل انـــدامې لرې
خوشبویې درومې ستا لرصاره یاره
گریوان به څیرې ستا د لاسه کړمه
خـالي روان یـم ستا له لوی درباره

مخ دې سپوږمۍ مه خـــالونه ستوري لرې

هیکل گونگرو دې کړې توکـــل بیداره

ځي راځي شاه ليلى زړونه وړي له ګــوګله
ستا کنار کړل ګلان چپ و راست لــه وربله

له ډيرو شوم بتر ستا په عشق کې دلبره
ګناه ګار يم بسيار حال مې وينې په خپله

تور چشمان سره لبان اثري ستا دلبره
هر انسان ستا صفت کړي هميش يوله بله

هر مريد دامنګير د خپل پير دى عالمه
توکل خاص مريد د لوى پير دى هر کله

په پور ننني غزل کې د غه دوه بيته هم ثبت شوي
هر سړى بخيل سر چې بې سر شي عالمه
خبردار شه بيدار شه په وت يې غافله
سمرقند بخارى ښهر وم تن کشمير
بلبلان کړي صفت په چمن کې د ګلـــه

ځان اچوي سوړ اوړ ته پتنګ په ډېره مینه
دا ظلم دی د اوړ ، په پتنګ یې چلوینه

دا ته ظلم په ماکړې اې پرې د څه د پاره ،
ځوان ومړ تر هرچا اوس مې زیره شوله سپینه

کرم
دا خپل مس و مال د واړه زه به تا ته دربخشش
پر تمه د وصال یم که دا ستا له لوري وینه

دا ستا د درګاه خاورې زه بدل به په زر نه کړم
ځما اوته نور وایه چې ما ولې کړه وینه

ی
توکل په خاورو ناست دی تا نه جام د وصل غواړ
راشه ورکړه خپل ساقي ته جام د مېو ډک په مینه

دا نن دا ستا په غم کې په میدان کې نمایان منوبر
نرگسې شهناز لرې چشمان دگل په شان منوبر

قد لرې شمشاد لوړې دې وریځې سپینکی مخ دې هلال
زه دې کړم بې تیغه حلال نه کوې پرسان منوبر

وخته معراج ته پاک نبي الله بللی و
دا کیسه ده له تفسیر هسې وايي ملایان منوبر

ځمکه اسمانونه که کاغذ شي دریابونه سیاهي
سنکل بې[1] نه کړی توکل وصفت د جانان منوبر

---

(١) بې : بېلي .

وفاداره زما یاره سر دې پورته که له خوابه
سمندر په شانې پروت یم ستا په در سینه کبابه

د تن غوښې مې ستې شوې د هجران په سرو لمبو
رب د یاره دارو راکړه د تمام جهان نوابه

عجب ستا د مخ نمک دی هسې خوند کابې هسابه
افلاکو نوکې دې غبز دی رنګ دې سور لکه ګلابه

سبا کوچ دی له دې سرایه توښه واخله که هوښیار یې
بې توښې منزل دې ګران دی ویره وکړه له وصابه

توکل مه نازېږه په نیمګړې دنیا باندې
مرګ دې هیر دی څله خاندې عاقبت به شې خرابه

زړه د خیال دې زنګیږي زلفان ورو ورو
په سرو شونډو دې رپیږي پیزوان دې ورو ورو

زاهدان چې زاهدي کا ګوښه کیني
یاد وي هر دم په ذکر سبحان ورو ورو

لاس په سر شه د دنیا له کاره وباره
رخصت غواړې له کالبوته روحان ورو ورو

شینکی خال دې په جبین کې هسې زیب کا
لکه سره بخمل کې وي سره ګلان ورو ورو

د هجران په لمبو وسوم بد مې حال شو
ځکه ما باندې څرخیږي اسمان ورو ورو

د خشخاش په شان مې زړه زړې زړې شو
مخ څرګند که له نقابه چشمان ورو ورو

زړه دې لاس ور باندې بړ دی متوکله
زړ زړ شه وشړه علیمان ورو ورو (۱)

---

(۱) دا نیم بیتی داسې هم ثبت شوی :
کړوري وایه پرې حلال کړه شیطان ورو ورو .

خمار و سترګو دې ورک کړم له حیا ګیره
رب دپاره مانه مه څه هواګیره

دېنو په اشارت مې دې زړه یووړ
دماهي په شان حلال شوم بې تکبیره

ستا د در په خاورو پړمخې نسکور یم
داسې نه وایې چې زما د در فقیره

ستا د زلفو په دام بند شوم نه خلاصیږم
لکه ونیسي صیاد مرغان دستګیره

توکل غریب فقیر دی لباس څه کړې
په کار نه لري شالونه دکشمیره

چاچې مخ د معشوق وليدو يارانو
مرتبه يې شي بلنده تر شاهانو

هغه سترګې چې مستې کا بې شرابو
قتلول کوي د ډېرو عاجزانو

زلفو تار دې موندی زړه شي يې لکونو
لاس ته ورغلې کو دی د عاشقانو

دواړه سترګې دې د يوې په مخ بلېږي
لکه شمع د سبا په شهيدانو

يام که شک په کې راته وړې توکله
محمد (ص) پيشوا د کل پيغمبرانو

ها دلبر مې هسې سروی، خرامان دی قسم
ښين خال يې په ابروګې زر فشان دی قسم

خلکو نيت پسې تړلی چې صف تيار دی
کږې وروځې يې محراب خال يې امام دی قسم

شعلې د ستا دڼه شوې خپرې په درست جهان
شور نيا پرې حجان واړه، په قران دی قسم

اوديا زړه پردې پيدا شوې پاک نبي له رويه
محود مين پرې توکل، په الله ګران دی قسم

مرمه ساه مې خیژې د رقیب له ناکرد و څخني
زړه مې نه صبریږي د اوږدو زلفو خوړ و څخني

راکړه یو شربت د لبو چې یې نوش کړم مستانه شم
خدایږو خونډ یې زیات دی هم له شاتو له شدو څخني

وخته معراج نه پاک نبي الله بللی و
والي کتابونه چې تیر شوی له پرد و څخني

ښنتر داسي څوک چې د زړه حال وړته بیان کړمه
خاوري ننګیالي شو زړه مې بد دی له ژړوندو څخني

سړي ستړي ولاړ دی توکل عاجز ژړا کوي
خدایه امان ورکړې هم له ټیټو له تود و څخني

جوړ کړه اعمارت په کې ګوزران کوې
مړې ورانوه بیا به ارمان کوې

لاړ مه اوس غلته به دې په کار نه شي
ته چې داسې شخې په میدان کوې

ولې دې زړه وچاوده دنیا پسې
هسې لیونۍ یې چې خپل زیان کوې

پلار او مور او زوی به دې په کار نه شي
خوشې لاپې شاپې په میدان کوې

دغه کار مې خوښ دی توکل ستا
شپه ورځ طلب د خپل ایمان کوې

نه پوهېږم چې دا خوب دی او که خیال دی
یو لوری وینمه بیلتون بل خوا وصال دی

تصور کې تخیل دی او که بل څه
هري خواته چې نظر کوم جمال دی

دا جذبات که ولولې که اندېښنې دي
د پردې شا ته تصویر دی که اجمال دی

دا تنزیل که ارتقا که استواء ده
ابتدا یا انتها یا اعتدال دی

دا تقدیر دی که تدبیر او یا اتکل دی
دا عذاب دی که ثواب دی یا وبال دی

دا اسپوږمۍ ده که رڼا د چا مخ ده
دا تحریر دی که تقریر دی یا مقال دی

دا تعبیر د زمانې که د ارزو ده
ته چې ګورې هر خواهش زما محال دی

ولې نه ترسره کېږي ارزوګانې
ما اخستی بیا د چا د زړه وبال دی

ای توکله نصیحت به درته وکړم
ما لیدلی قناعت کې لوی کمال دی

تن مې ولیدلی د لیلې سینه کشمیر دی
زړه یې هواګیر دی

* *

باغ یې د سینې مثل یې ښشته په خوبانو کې -
د سرو ټمیک یې بادشاه خال یې نواب پېزوان وزیر دی

باغ یې د سینې په کې تورتیان په چغارو دینه
دم په دم فریاد کاچې زخمي د عشق په تیر دی

د رست صورت یې ګل دی دیار مخ دی شاله باغه
رنګارنګ میوې لرې تو تې په کې جاګیر دی .

باغ یې د سینې زلفې شانه کړې ماجبین
مړ دې توکل کړ خاص مرید د دستګیر دی

PROPERTY OF ACKU 7747

په ورځ د محشر نبي
دست ما دامن تو

* * *

یو مل ځله خوله کنګال که په او بو د حیات
په خوله نوم لا اِله راځي د نبي

*

یو مک وخلوویشت زره زیات کم مرسلان
په دغو واړو کې سردار دی نبي

*

په غیږ د رب له حکم یو پانه د شجرنه د پې
چې حکم د شي هغه یو ساعت ...

*

توکله یا ځه په اخلاص که رب یاد
مولا به درکه په دا نیمه شپې .

زلفې دې په مخ باندې شانه کړې ماجبینې
سرې لبې دې آب حیات شاتې شکرینې
ګرانه عاشقي ده په اسانه څوک موندی نشي
څوچې د توت په خم جامې نکړې رنګینې
سپین بدن دې البسته د چنډه زلفې دې ځاځې دي
خوږ مه پې ښم چې د بخلو نه میني
غرې کړې سوری په خپل قوت سره فرهاد ګوره
زړه چې له فرهاد نه په نامه وړی شیرینې
زه بندي مرغه یم ستا په دام کې حلا لېږمه
یوه مې را پرېږده چې آزاد شي نازنینې
زه په تانازېږمه ای سروخرامان چمن
ته زما دلبر یې اولین هم آخر بنې

زه چې چلي په زړه باندې د شهباز زلفو منګرو یمه
طبیبان خوشې خوارې کا ساړې مې خېژي په نارو یمه
جلادان را پسې ګرځي لوړ په لوړ ایستلي تورې
وا به نه وړم ستا له دره زه مین ستا په ابرو یمه
لاس مه وینه په لاس ای دلبره خدای د پاره
د بېلتون د لاسه خدایه په سپېرو خاورو ایرو یمه
ساه مې نشته په بدن کې تش کالبوت در پسې ګرځم
د هجران ظالم د لاسه حلال شوی په تېرو یمه
زه یې تل د غیرو خلکو ګناه ناست یمه ژړا مه
د ګناه پېټی مې دروند دی خپل مولا ته په ژړو یمه

غم دې ما ما سره همراه دی بې له غمه غمه دې کړېږمه
ښا دې نه نه وينم په سترګو په هيڅ رنګ رنګ ترې نه خلاصېږمه
غم دې ما ما سره همراه دی

★

دنيا نه غواړم له تا نه الحی الحی پاک سبحانه
ما نه دوړ دوړ دی په کلونه له نامې نامې نه دې زاريږمه
غم دې ما ما سره همراه دی
زه په تاتا باندې نازېږمه ته بېشکه ننګيالی يې
لږ مې ونيسه له لاسه په صراط باندې تېرېږمه
غم دې ما ما سره همراه دی
منصور يو يو ځله په دار دار باندې ختلی و ياراڼو
زه منصور منصور نه يم نو څه يم چې سل ځله په دار باندې سورېږمه
غم دې ما ما سره همراه دی
زه چې تېر تېر ساعت را ياد کړم مه لکه وازده ويلې کېږمه
زه توکل توکل قصيده لولمه د هوسې هوسې په شان رېږدمه
غم دې ما ما سره همراه دی (۱)

---

(۱) - جيم، دار مستمند، د پښتونخوا د شعر هار و بهار، ۸۷ مخ، ۱۳۵٦

ځماږې سترګې چې راواړوې صنم   زړه مې شي قلم قلم

★

په دنیا کې رب پیدا کړې ماه جبینې   نه دې یار یم په رښتنې
راشه راشه په لیمو مې ږده قدم

★

په سپین مخ کې دې خالونه زر زرې دي   سره لبان دې اناره دي
ما پرې ایښی سر و مال دی مقدم

★

زه په تاباندې مین یم تل مدام   سرو قده ګل اندام
د غم او ښکې مې په مخ ځي دم په دم

★

خوب خندا په ځان حرام کړه توکله   ځان دې مه کړه بې عمله
سوال قبلیږي په دا وخت د مسحدم

مستانه یاره ستا یم
دیوانه یاره ستا یم

بې له تا مې ژوند خراب شو
اندرون زما کباب شو

* *

عجب شور د بلبلو دی — بورانا ستو په غندلو
ستا کوڅ کا بې آګاه یم — مستانه یاره ستا یم

* *

دواړه سترګې راښکاره کا — دزړه غم مې اواره کا
ستا په لږ نظر بادشاه یم — دیوانه یاره ستا یم

* *

وا به نه وهم ستا دلوری — که مې سنګ په سینه اوړی
یاره ستا د در ګدا یم — مستانه یاره ستا یم

*

زه توکل به ستا صفت کړم — خو مې ساه وي په بدن کې
زه غلام د شهنشاه یم — مستانه یاره ستا یم (۱)

---

(۱) - جیم - ډاډ مستنتی ، د پښتو نځوا د شعر هار و بهار . ۱۸۳ ، ۱۸۴ مخونه .

نن زما په تا پسې د زړه بازار نړېږي
که لوند مې پرې ګرېوان شه د واړه سترګې مې ژړېږي

سپین مخ دې له افتابه، شغلې اخلې بې حسابه
که زړه مې شه خراب، د چا خوا په ما سرېزي

د زړه نه مې سیلاب ځي، نغمې پرې د درياب ځي
د سترګو نه مې ناب ځي، ستا دیدن پکې غرېږي

چې شین خال دې را په یاد شي، د اخراب خاطر مې بناد شي
دېدن مثال د باد وي ، عاشقان کله مړېږي

روغ صورت مې تا بیمار که، چې وربل دې تار په تار که
اول بند دې پرې خپل یار که په زلفو کې پرکېږي

یو بل په ما نیران دی، بل وطن را باندې ګران دی
چې یار مې بندیوان دی، ځکه رنګ زما زېړېږي

فریاد کوم درپسې په صبحدم کې یاره
تندی وهم درپسې په سترګو نم کې یاره
تورې دې زلفې په سپین مخ باندې
خوار عاشق په کې پرکوو نه وهي
بند شو په دم کې یاره

په خوله لباس په زړه اخلاص نه لري
عاشق هغه چې بېغمې نه لري
په هر زمن کې یاره

روح مې جدا شو له کالبوته ځنې
درب دیاره خبر وا خله زما
په خشکدن کې یاره

توکل باچا میراو وزیر دده دے
میرا صفت دخپل باچا به کوي
په خپل وطن کې یاره (۱)

---

(۱) : دا شعر د میراو ، کله چې توکل د میرا دا غزل واوریده نو دا بیت یې وکښه :

توکله تل کړه پیروي د کلام
میرا فقیر درپسې ژاړي مدام
په هر سخن کې یاره

د سترګو او ښکي مي په مخ لکه باران ځي
چې په عنوان ځـي ، مـاه تـابان ځي

+++

دواړه ليمه مي شـــــــو لاړي لاړي
چې پرې دا او ښکـــو راغـلې داري
د سترګو او ښکي مي درياب شوي په ګريوان ځي
چې په عنوان ځـي ، مـاه تا بان ځي

+++

شـو نلري په غاښ له قاره ښـــوري
چې کوم اجل نيولــــــي ګـــو ري
د چا کشتن ته خونړي توره عريان ځي
چې په عنـوان ځي ، مـاه تا بان ځي

کفن په سر احل ته ګورم
روح د وصال په نقد پلورم
د زړه په سر مې سرې پرې ستا د پېزوان ځي
چې په عنوان ځي، ماه تابان ځي

* * *

توکله پرېده عبث خبرې
اشنا دې نيت کړی د لرې
د زړه توتې دې په سفر د هندوستان ځي
چې په عنوان ځي ، ماه تابان ځي.

وخت د صبحدم کې توتي چې له گلزاره ځي
ژړا که په هر دم کې بلبله دل آزاره ځي

*

غم زور شو په ما باندې حال نه وایم زه چا ته
چې ورځي د باندې د اسم نه گورې ما ته
بریښنا شي چې وځاندې رڼا یې شي هر خواته
رڼا که په تور تم کې شغلې یې له خساره ځي

*

په ما باندې شید ایې ای ناز ما خواره مجنونه
همیش دې په سودا یمه خبر شوله ولسونه
په مجنونو کې اعلی یم راځه بوی دی که گلونه
مقام مې دی حرم کې شرنگهار مې له درباره ځي

وربل دی اورل دی ستا دی وروځو په پیوندځلي
موزې له سټوني تېرکړو ستا د داسې لبو خوند ځلي
اشنا دې ولې هیرکړو وتونالت[1] دې شه په ژوندځلي
هر چیرې چې ګورم هرې خواته ستا دیباره ځي

*

توکل وایې سندرې نو غوږ نیسئ عالمه
په اور وسوم د سرې چې هیڅ نه وینم منمه
جهاو پرې مرغلرې ښایسته شو په قلمه
ما وڅلي په دادمه چې ښایسته مسته ځماره ځي

---

(۱): تونالت - تولعنت

ته ماز یګر راشه په تلوار که زما یارې
برګوډی له څونه چې ملګرې شــــو دلارې

*

ته ماز یګر راشه په تلوار زه یم بلبله
کلې جنګو نه یاتې شوم ستاله کبـــــله
تاچې هم خبره د یاره ماله کــوله
راڅه چې در نه درکړم سپینه خوله شونډې ایداړې

*

شونډې مې ایدارې درکوم راته وګوره
مړوند مې نیسه یاره مه شرمیږه له پیغوره
عرض مې در ته دا دی چې دادا وځي له کوره
راځه چې سره خملو به دې سره پالنګ قــــرارې

*

راځه چې سره خملو به دا سره پالنګ د پاسه
سوړکي لبان به درکړم یاره زه د زړه له اخلاصه
سینه مې بند به بند ما تیزي ستا د لاسه
حسن مې باغ ته مې توتي ګله به ګـــــلزارې

حسن مې باغ دی اننګې مې زیړ ګلونه دي
دانه چاپېر دي د اوږدو زلفو شپېلونه دي
دوه و درې لرم بل په لنډه زنه خالونه دي
راشه توکل جانه ولې نیسه کـــه هوښیار یې(۱)

---

(۱) - هیواد مل زلمی ، اولسي سندرې ، لومړی ټوک ، ۷۹ - ۸۰ مخونه
پښتو ټولنه ، ګوندي مطبعه ، ۱۳۶۱ لمریز .

باران وريږي وريږي واورېږي

يو ورځ بې(۱) واورم يو ورځ بې واورې

*

باران وريږي کله درېږي

چې عقل يې نه وي په سر يې(۲) نه پوهېږي

په دې باريکه خبر څوک نه رسيږي

دنيا فاني ده لاړه واوره هوښياري

*

چې د ده راشي اجل

يو ساعت به نه کړي معطل

روح دې له تنه يوسي ته به نو څنګه کړې چل

په هغه تور لحد کې الله دې شي دا ستا مل

په څومره کبر و هوا بندي يې د تورې خاورې(۳)

---

(۱) بې - بېلې

(۲) يې - پرې

(۳) خاورې - خاورعي

سوال و جواب لـــه تـــا نه
په وکوي مـــــهر بـــا نه
کړ دې ايمان تيرکـــړې تا نزبشى اسا نه
ته به جنت کې ګرځې هوړې پې له تا قربا نه
دړو مې په هر طرف ته جوړې په ستاوي لاړي

*

که پيدا نه واى نبــــــــې
نه به عرش و نه کــــــرسي
نه به شمال و مشرق نه به مغرب جنو بې —
يو ذات د پاک الله دى ، دى دى پخپله ربې
توکل داسې وايې د کل امت سـردار يې

۵

اصله سناپیرعه یې نجلۍ چیرته دې مقام دی
زړګی می شو قلم

*

اصله سناپیرعه یې ولې سم نه ګوري ماته
خو نه دې میراته
ارمان مې دادی یو ځل ومې نیسه خواته
نن وي که سباته
سپین مخ دې جومات وروځې محراب خال دې امام دی
تکبیر وایمه سم

*

اصله سناپیرعه یم ویره وکړه زما له زوره
کړ ار کینه سر خوره
خبر به شې هلکه د پاولو ګونګروله شوره
داسوړ تیک ته مې ګوره
پیدلک ووپې ارزانه هم زما د لبو جام دی
رنځور شو دیر عالم

اصله ښاپېرۍ یې یې ځل مخ را ته څرګند کړه ۔

خراب دې را ته ژوند کړه

زلفان دې دام دې زما زړه دې په کې بند کړه

بسته دې په کمند کړه

نه خلاصېږم له دامه که بې تا ته مې سلام کړ

نور مه کوه ستم

*

اصله ښاپېرۍ یم سپین مې مخ لکه ماهتاب دی

دیدن زما ثواب دی

د سرو مې دی پالنګ زلفانې چنګ پلار مې نواب دی

هر چېرې مې دبدبه

نښتي لتړکل د عنبرې زلفو په دام دے

ښاپېرۍ کړې ځکه هر دم

قسم په ذات دی مین په تا یم   ارام مي نشته تا نه جدا یم *
نن او سباکي یم په رفتن کي
باقي نه او سم په دي وطن کي
خبری واخله ځنکدن کي
زه ناعلاج مسکين گدا يم   ارام مي نشته تا نه جدا يم
زه دي قربان شم په پاک غفار
ته خود خبر يي له کل اسرار
خبري واخله پاکه ستار
مکان مي بل دی سبا جدا يم   آرام مي نشته تا نه جدا يم
زه توکل يم بي وسواسه
وېره مي نشته لدي خناسه
په دي خبر دي تول عام و خاصه
چي د حضرت د در گدا يم   ارام مي نشته تا نه جدا يم

شاه ستا په شان دلبر — نه شمس دی نه قمر
دحسن سیال دې نشته — نه په هند و نه په چین
په تمام روی زمین

*

په تمام جهان کې سیال — نشته ستا د جمال
درکړی رب کمال — درته حیران دي سلاطین
په تمام روی زمین

*

پاچایان ستا په دربار — مدام دي ټول خوار و زار
خواهان دي ستا د دیدار — که ښکاره وې سپین بشر
نه شمس دی نه قمر

*

ښکاره دې کړه دیدار — یوسفي ښکلی رخسار
جهان به کړي گلزار — هم به خجل کړي نازنین
په تمام روی زمین

بگنئیہ

خوبان د دې جهان ټول دي ستا په ارمان

په صفت ستا دي ګویان همه دي سوخته ځیګر

نه شمس دی نه قمر

*

خدمت دې خوبرویان کا خدمت یې عاشقان کا

مدام په دل او ځان کا خوند لري دا انګبین

په تمام روی زمین

*

خوند کوي مدام زه یم ستا غلام

ولاړ یم لاس په نام زه په خدمت لکه نوکر

نه شمس دی نه قمر

دا ستا د حسن ھنگامې تللی تر چین دي
لب دې شیرین دی زما نگاره
مولا جمال در کړی تاله یې د حرم بدرې جماله
نور خوبان وا ړه ستا د حسن خوشه چین دي
زما نگاره
ترسم پرلاره نه ځې هیڅ په قلاره نه ځې
واړه ھمزولي دې سبه شکلي نازنین دي
زما نگاره
عجب رخسار لرې شیرین گفتار لرې
گمان مې دادی چې پریان دې همنشین دي
زما نگاره

کبر و غرور مه کوه په هیڅ رنځور مه کوه
واوره توکله تا نه زیات زیر زمین دي
زما نگاره

ولې مې سېزې ته بې نګاره
مخ رابنکاره کړه رب د پاره

*

په اور د ې وسوم مخ کړه څرګند
د سرو لبانو راکړه یو پیاله بنګ
چې شم بې خوده یاره ستا د خماره

*

چې شم بې خوده یاره ستا صحبت کې
خبر مې واخله روز قیامت کې
له دنیا لاړه ستا د لهزاره

*

دنیا فاني ده په لاس راننغی جانان
لکه یعقوب پیغمبر ړانده مې شول چشمان
بینا چشمان به مې شي ستا په دیداره

*

ستا د دیدار په نصیب، زړه به زما شي تسلیم
که په وصال مې موړ کړې الله کریم ورحیم
بوی په توکل که راشي ستا له ګلزاره

جبین فانوس بدن ربیبا　　　محمد یار سول الله
عجب صاحب جمال تو　　　مه قربان کمال تو
به جنت شد جلال تو　　　محمد یار سول الله

ооо

مثل طوطی شیرین زبان　　　وایه ثنا د پاک سبحان
به دنیا ندارم ارمان　　　محمد یار سول الله

ооо

ته یی محبوب سبحانی　　　به حال من تو میدانی
گناه کردم به نادانی　　　محمد یار سول الله

ооо

توکل تل کوه خوار ی　　　خپل مولا نه کره زاری
جنت به در کری اسعد ستی　　　محمد یار سول الله

PROPERTY OF ACKU 7747

د افغانستان ختيځ پښتانه

(۱۸۸۰-۱۹۸۰م)

دکتور وارث محمد وزير

د دانش کتابخانې له خوا نور خپاره شوی اثار

د شګې ګل	سید کمال د ننګرهار ولسی شاعر شعرونه
قلم او قیام	د لغمان ولسی شاعر عبدالرحمن علینګاری شعرونه
برګودر	دننګرهار ولسی شاعر توکل شعرونه
منګولی	د لغمان ولسی شاعر سید باوو جان شعرونه
سندریزې کیسې	د لغمان ولسی شاعر شیخ احمد خان شعرونه
مجنې سترګې	دلغمان ولسی شاعر بسم الله ګلکاریوال شعرونه
دیګونه او شعرونه	طنز شعرونه - کاتب پاڅون
دولتی موټر	طنز داستانونه - کاتب پاڅون
پندونه او خوندونه	واړه طنزونه - کاتب پاڅون
د بنجاره هټۍ	واړه طنزونه - کاتب پاڅون
سړې څنګه ښځه شوه	طنزونه - کاتب پاڅون
د ښار په ستدیوم کې	د مهاجرت طنزونه - کاتب پاڅون
دوه مخی کسان	طنز - میرزا علم حمیدی
ورې څنګه لیوه شوه	طنز میرزا علم حمیدی
له ماښامه تر ماښامه	پیر محمد کاروان شعرونه
چنار خبرې کوی	پیر محمد کاروان شعرونه
څانګې څانګې ارغوان	نورالحبیب نثار شعرونه
خوته خبرې کوه	حسینه ګل شعرونه
د تاووس ښکه	د مصطفی سالک شعرونه
رجړومه	دګوهر رحمن ګوهر شعرونه
ډیوټ	د ګوهر رحمن ګوهر شعرونه
د پښتو شعر هندسی جوړښت	د اسماعیل یون
افغانستان څنګه تباه شوه	جنرال رحمت الله ساپی
سرې لښکرې په فغانستان کې	د داود جنبش ژباړه

دانش کتابخانه، ډهکی نعلبندی، قصه خوانی بازار - پېښور